


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

---

د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغاني » ليکنه

د نشر نيټه: 10 نوامبر 2025 ميلادی

# شور او عشق!

**شوق:** شوق هغه دی چی په انسان کی د څه موجباتو په اثر د حرکت کار او باعث پيداشي ، په دی مرتبی کی انسان د خپل مطلب په خوا هڅه کوي او د خپلی هڅې څخه يو رنګ خوند او لذت هم اخلي.

د شوق په مرتبه کی فقط اشتها قوي وي او بيا د حصول او وصول په مرتبه کی پوره خوند او لذت پيدا کيږي ، د شوق مرتبه که څه هم د حق په لياره کی د ستاينی وړ ده خوبيا هم انسان ته په دغه مرحله کی د رسيدو په هغه د موانعو او عوايقو ډير احتمالات شته دي.

شوق يو رنګ داسی مينه او تلوسه ده کومه چی د کمال او پوخ والي مرتبی ته ليا هنوز نه وی رسيدلی ، مګر اميد واري په دی کی ده چی د شوق محرکه مرحله پيدا شوی ده چی د دی په برکت به د معقو ل فعاليت په اثر د مشکلاتو او لانجو لری کيدو زمينه ښه مساعده او برايره شي .

**عشق:** عشق د شوق اخرنی درجه ده او يا د شوق څخه پورته هغه مرتبه ده کومه چی د کلکو تصميمونو موجب ګرځي، د عشق په مرتبه کی د نه کيدو مفکوره نه قبليږي.

د عشق په مرتبه کی عشق په ټولو فعالتونو مسلط کيږي او د رنج او رنځ خيال له مينځه ځي چی عاشق د معشوق له خوا د ضرراو تکليف رسولو څخه هم خوند او لذت اخلي.

ابن سينا انسانانو ته د شوق او اشتياق په مرتبی قايل دی او د ده په نزد د انسانانو لپاره د عشق د کلمی استمال حقيقي نه دی ، ځکه چی حقيقي عشق د ده په نزد ټول ابتهاج ، سرور او کمال دی چی امکان او عدم نه قبلوي .
ابن سينا حقيقي عشق د الله « ج » صفت ګڼی او د مجازيعشق نسبت انسانانو ته هم کوی وايی:

والاول عاشق لذاته ، معشوق لذا ته عشق من غيره او لم يعشق و لکنه ليس لايعشق من غيره بل هو معشوق لذاته من ذاته و من اشياء کثيرۀ غيره.

در ترجمعی حاصل:

اول یعنی الله « ج » په خپل ذات عاشق دی او خپل ذات یی د خپل ذات لپاره معشوق دی د دی پروانه کوي چی نور په ده عاشق شي او که نه ؟ لکن داسی نه ده چی نور وربانی عاشق نه شي بلکی د ده ذات د ده او د نو رو ډیرو لپاره معشوقه ده.

محقق طوسی لیکلی دی:
ابن سینا د عشق په هکله یوه ډیره ښه رساله لیکلی ده چی په هغه کی یی دا ښودلی ده چی د عشق عملیه په ټولو کایناتو کی وجود لری او د حق له خوایی ورته سریان او جریان پیدا کړی دی.

حقیقت دا دی چی دنیا په عشق پیدا او په عشق پایی او ابادیږی!
د دنیا حرکت د شوق او عشق محصول دی او د شوق او عشق په وسیلي ټول پخوانی ، موجود او راتلونکي تحولات ، اکتشافات او مدنیتونه مینځ ته راغلي او راځي او که شوق او عشق نه وي هیڅ په نه وي او که فرضاً وي ضرور به د جمود او خمود سره مخامخ د مطلق عطالت او بیکاری دوران وي ، خوند به نه وي ، لذت به نه احساسیده حتی هیڅ به نه وي او نه به د هو ــ او نه ــ مفهوم حقیقت پیدا کړی وي.

حقیقت دادی چی په عشق باندی دنیا اباده ده او د عشق د لیاری کمال او فیضان په برخه کیدی شي .
عشق یو داسی قوي جاذبوی قدرت دی کوم چی ټول کاینات د دی په محور څرخیږي ، وجود او هستي ټول د حقیقي عشق اثرات او شعاعی دي چی د حکمت په اساس بقاء او پایښت لري.

همدا وجه ده چی حقیقي متصوفین د عشق د زیات فیضان ، جاذبي او شعاعو په اساس د صلاح ، فلاح ، نیکمرغي او خیرپه لیاره کی نه ستړی کیدونکی فعالیتونه کوي او په پوره خوند، جذبی او لذت د حقیقي بقاء او پایښت په خوا روان دي.

***

مولانا داکتر سعید افغاني

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی»

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی